بیا سپرلي په ګلو و پالل باغونه
بیا غټولو په سرو واخیستل راغونه
بیا له خوبه شوې راویښې وچې دښتې
مچوي د سبا لطیف بادونه

"اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد"

# زېری

پنځلس ورځنۍ جریده

د تاسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

شنبه ▣ ۱ - ۲مه ګڼه ▣ درېیمه دوره ▣ پرله پسې ۲۰۱ - ۲۰۲مه ګڼه ▣ ۱۳۹۳ لمریز کال د وري ۳۰مه ▣ ۱۴۳۵هـ ق کال د جمادي الثاني ۱۸مه ▣ ۲۰۱۴ زېږدیز کال د اپرېل ۱۹مه

ادبي بحثونه:

## ادبیات او ادبي څېړنې

څېړنپوه سید محی الدین هاشمي

ادبپوهان ادبیات په دوو سترو برخو وېشي: یوې ته تخلیقي ادبیات او بلې ته د تحقیقي یا څېړنیزو ادبیاتو نوم ورکوي. په لومړۍ برخه کې تخلیق شوی ادب (لکه شعر او د هنري نثر بېلابېل ډولونه) او په دویمه برخه کې د دغه رامنځ ته شوي ادب په اړه تحلیلي او تفسیري څېړنې شاملېږي.

د "ادبیاتو" او "ادبي مطالعاتو" یا "ادبي څېړنو" ترمنځ په نږدې اړیکه باندې ډېره اوږده او کړکېچن بحثونه شوي دي، د دواړو ترمنځ که له یوې خوا ډېرې نږدې اړیکې لیدل کېږي، نو ترڅنګ یې د "ادبپوهنه" اثر لیکوال یې یو توپیر داسې ښودلی دی:

"د دواړو (تخلیقي او تحقیقي ادب) ترمنځ یو ډېر ستر توپیر دا دی، چې "ادبیات" تخلیقي اړخ لري، ادیب یې رامنځته کوونکی او ایجادګر دی او ادبي مطالعات یا څېړنې د ادب په هکله د یو ډول پوهې ترلاسه کول یا زده کړه ده، په دې معنا چې لوستونکی د نورو تخلیق کړې ادبي آثار لولي او تر تحلیل وروسته پرې ځان پوهوي یا په بله وینا: ادیب هنرمند دی او ادبي مطالعه کوونکی د لوستونکي او زده کوونکي په ډله کې شمېرل کېږي. (۱) او ویلي یې دي: "څوک چې په خپله ادیب نه وي او ادبي لیکنه ونه کړای شي، په ادبیاتو نه پوهېږي، نو ځکه باید ادب څېړونکی او د ادبیاتو مطالعه کوونکی هم "ادیب" وبولو، یعنې یو څوک هغه وخت د بل په شعرونو او یا د هنري نثري لیکنو (لنډه کیسه، ناول، ډرامه او...) باندې پوهېدای شي، چې په خپله یې هم شعرونه ویلي او ادبي نثري لیکنې یې کړې وي."

حال دا چې واقعیت داسې نه دی. د بېلګې په توګه: موږ داسې ډېر نالوستي ولسي شاعران لرو چې د شعر فنون یې هېڅ نه دي لوستي، بدیعي لفظي او معنوي ادبي آثار یې تخلیق کړي دي، چې ډېر ستر ادبي او هنري ارزښت لري. همدارنګه ډېر داسې ادب څېړونکي هم پېژنو، چې د شعر په ټولو فنونو او ادبي تلازماتو پوهېږي، خو شعر نه شي جوړولای. نو ویلای شو چې "ادبیات" او د ادبیاتو په هکله پوهه او معلومات دوه بېل شیان دي. ادب په خپله د "ادیب" ابتکار او تخلیق دی. (۲)

د "کشاف تنقیدي اصلاحات" اثر لیکوال د "تخلیقي ادب" د اصطلاح د پېژندنې په لړ کې وایي:

"تخلیقي ادب" CREATIVE LITERATURE" یوه ادبي اصطلاح ده. تخلیق والی د ادب له پاره بنیادي، بنسټیز او لازمي شرط دی. یا په بله وینا: په اصطلاحي لحاظ د ادب په کلمه کې د تخلیق مفهوم له مخکې څخه شتون لري. نو بیا دا پوښتنه راولاړېږي، چې د تخلیقي ادب دغه اصطلاح چې موږ ته په تنقیدي لیکنو کې مخې ته راځي، د څه له پاره وضع شوې ده؟

په اصل کې خبره داده، چې د ادب ځینې غیر محتاط کره کتونکي او د ادب له بنسټیزو غوښتنو او تقاضاوو څخه ناخبره لیکوال او څېړنکي، ځینې هغه لیکنې چې تخلیقي نه دي، هغه هم په ادب کې شاملې ګڼي، نو ځکه په ادبپوهنه کې ادبي لیکنې (ناول، لنډه کیسه، ډرامه، ادبي ټوټه او...) له غیر ادبي لیکنو (تاریخ، ساینس، فلسفه او...) څخه

درېیم مخ ←

## د ژبې د نګه توب اهمیت

■ څېړنوال مولاجان تڼیوال

بېلتون داسې لیکه او کرښه هم تر سترګو کېږي، چې د دوی خپله خپله ځانګړتیا او جلاوالی جوتوي.

ځینو بیا د ادبیاتو او ادبي مطالعاتو ترمنځ د اړیکو ښودلو په لړ کې، له دې توپیر څخه له یوې مخې سترګې پټې کړي صنایع نه پېژني، تشبیه، استعاره، کنایه، مجاز، قافیه، د هغې ارکان او عیبونه ورته نه دي معلوم، خو داسې ادبي فن پارې یا په دې پوهېږو، چې د انسان ژوند په تحول کې دی. د تحول په جریان کې د انسان د ژوند په ټولو برخو کې بدلون منځ ته راځي. ډېر څه له لاسه ورکوي او ډېر څه خپلوي. د بشریت تاریخ په واقعیت کې د تحول یوه اوږده تنسته ده او تر هغې پورې به دوام کوي، چې انسانان موجود وي او د نړۍ پرمخ خپل ژوند تېروي.

که چېرې د نړۍ هېوادونو ته وګورو، نو دا په ډېرې اسانۍ درک کولای شو، چې دوی د پرمختګ په لاره په یوه پله نه دي روان. د دې په څنګ کې له دې څخه هم سترګې نه شو پټولای، چې د دوی په منځ کې یې متقابل تاثیر هم یو شان نه دی.

دا یوه منلې خبره ده، چې هېڅ یوه ټولنه له نورو ټولنو سره د اړیکو له لرلو څخه پرته نه شي کولای، چې خپلې اړتیاوې په ګوښي ځان پوره کړي. که داسې یو امکان وای، نو هېڅکله به هم د راکړې ورکړې او سوداګرۍ اړتیا نه محسوسېده.

له دې یادونې څخه ښکاري، چې انسان یو اجتماعي موجود دی او د دې له پاره چې ژوند وکړای شي، ناچاره دی له نورو انسانانو سره روابط وساتي.

موږ د مخه وویل، چې ټول هېوادونه د پرمختګ په لاره یو شان مزل نه کوي، ځینې هېوادونه تر نورو وړاندې دي، د دوی ژبې پیاوړې لغوي ذخیرې لري، دا ځکه چې نوي شیان تولیدوي، نوموي یې او په دې وسیله یې نوي لغتونه د ژبې لغوي پانګې او د ولس سینو ته لاره پیدا کوي او ورو، ورو له نورو هېوادونو سره د اړیکو او تماسونو له لارې د هغوی ژبو ته هم ورننوځي. دا ډول لغتونه په هېڅ وجه بې اغېزې نه دي، ځکه چې یا د یوې ژبې د

درېیم مخ

# په ادبي اثر کې د فکر او پیغام مسئله

ګل رحمن رحماني

د پښتو ژبې په اوسنیو ځینو ادبي آثارو یوه لویه نیوکه داده، چې لیکوالان یې د فکر او پیغام موضوع ته په کې ډېر ارزښت نه ورکوي او له پامه یې غورځولې ده، په داسې حال کې چې هر ادبي اثر باید د ټولنې عیني او ذهني واقعیتونو ته په پام سره د خپلو مینه والو یا مخاطبینو له پاره یوازې رنګین الفاظ او ښکلي عبارتونه نه، بلکې د لیکنې موخه، فکر او پیغام په ښه ډول واستوي او لیکوال باید د هغه ټاکلې موخې له پاره تریوې کچې ور نږدې شي، چې له لیکنې وړاندې یې د ځان له پاره ټاکلې ده، لیکوال د خپلې لیکنې په پیل کې غوښتي، چې په ټولنه کې شته ستونزه درک کړي یا په بله اصطلاح، خپلې موخې ته د فکر او پیغام په وړاندې کولو ځان نږدې کړي.

زموږ ټولنه تر بل هر وخت، همدا اوس فکري ویښتابه او فکري عمل ته زیاته اړتیا لري، دلته چې کلونه تاوتریخوالی حاکم دی، فکر او فکري کارونو ته ارزښت نه دی ورکړل شوی او مفکرینو په ټولنه کې خپل ځای نه دی موندلی، نو له همدې امله فکر هم د ټولنې د نورو پدیدو تر اغېز لاندې راغلی او که وي، مستقل او تقلیدي فکر نه دی، یا د نورو فکري تکمیل او یا هم مفکر په شعوري ډول د فکر پراوونه نه دي پاللي او موخه یې تته ده.

پورتنۍ ستونزه به ښایي زموږ د ژوند په هر ډګر کې مطرح وي، خو خپله زموږ په ادبي آثارو، شعرونو او نثرونو یا هم ژباړو کې ورته ډېر پام نه دی شوی، یوه ملګري مې راته ویل، غواړي یو ناول ولیکي، یوه موضوع یا سوژه یې هم ورته پیدا کړې، کله مې چې ترې وپوښتل، چې د ناول پیغام دې څه دی او په کومه موضوع کې فکر کولو، دې ته اړ وېستې، چې ناول ولیکې؟ هغه وخندل، ویل یې، چې ومې لیکه، خلک دې خپله په کې فکر وکړي او پیغام دې په کې لټوي.

د اوسنیو ادیبانو په منځ کې ډېر همدا فکر کوي، چې دی اثر رامنځته کوي، خو نه یوازې چې د لیکنې د اصولو له مخې خپل مخاطب ترې ورک وي، بلکې له ځان سره هغه موخه نه لري، چې د دې ادبي وړوکي یا لوی اثر په ایجاد سره خلکو ته کومه موضوع وړاندې کوي، پیغام یې څه دی؟ دوی ټول یوازې همدا فکر کوي، چې لوستونکی په کې د ده موخه خپله موندلی شي، په داسې حال کې چې که لیکوال یا د ادبي اثر ایجادوونکی خپله د لیکنې په هره کرښه کې له ځان سره موجوده مفکوره او پیغام په ذهن کې ونه ساتي او په کې پلې یې نه کړي، نو لوستونکي ته هم څه نه شي ورکولی.

خپله د فکر تولید د ډېرو کمو لیکوالو ځانګړتیا ده، په پښتو ژبه کې تر ټولو مخکښ کس چې د فکر د تولید او په لیکنو کې د خپل فکر پاللو او لېږد امتیاز ورکړل شوی، اروابناد استاد ګل پاچا الفت دی، ده په خپلو ټولو آثارو کې یو نوی فکر پاللی، د ټولنې له یوه محرومیت او ستونزې یې پرده پورته کړې او همدا علت دی، چې مخاطبینو یې په لیکنه کې ځان موندلی، د هغه د نثر په هنداره کې یې خپلې خامۍ او نیمګړتیاوې درک کړې، د هغه فکر او پیغام یې د ځان له پاره درمل بللی او ستونزې یې تر ډېره پورې اصلاح کړې دي.

د لیکوالۍ یا ادبي اثر ټولنیز حیثیت هم همدلته مطرح کېږي، هغه مقام چې خلک یې شاعر او لیکوال ته ورکوي او

درېیم مخ

# سریزه (مقدمه) څه ته وایي؟!

څېړنوال محمدنبي صلاحي

د سریزې ټکی د عربي ژبې د مقدمې له لفظ نه اخیستل شوی دی او د مقدمې پښتو فورم، سریزه ده. سریزه د اثر لیکلو د انګېزې، ډول، هدفونو، لاروچارو او نتیجې په اړه، د سریزې لیکونکي لومړنۍ لیکنه ده، چې د کتاب له بشپړېدو نه وروسته لیکل کېږي، مګر د اثر په سر کې راوړل کېږي. له دې امله، سریزه د کتاب دریڅه، دروازه او هنداره بلل شوې ده.

پخوانیو خلکو به ویلې، هر کار یوه مقدمه غواړي، بې مقدمې په یوه مجلس کې خبرې کول، سړی له ستونزو سره مخامخ کوي. یو شمېر خلک، بې مقدمې خبرو ته، بې خلطې فیر هم وایي. د پخوانیو پوهانو په ګڼو کتابونو باندې، سریزې لیدل شوې دي او په هغو کې، د هماغو آثارو پېژاند (تعریف)، د لیکلو مېتود (ډول) او مقاصد بیان شوي دي. تاسې ته، له دې نه هم، په ادبي اثر لیکلو باندې، د سریزې اړتیا څرګندېدی شي.

کومې سریزې او تقریظونه، چې د کتابونو په سر کې راوړل کېږي، هغه لکه سرمقاله، چې د ورځپاڼې له پاره د بیرغ حیثیت لري، په هماغه ډول، د یوه کتاب له پاره ارزښت لري. ویل کېږي، چې سترګې په ښو نه درنېږي، دغه ډول، آثار نه یوازې په سریزو باندې درنېږي نه، بلکې کتابونو ته نور وزن او درنښت هم ورکوي، ځکه د سر خبرو، سریزو او تقریظونو په لیکلو باندې، د اثر د لومړنۍ پېژندنې، ارزونې او تعریف عملیه تر سره کېږي.

په پښتو ادبي آثارو د سریزو لیکلو دود او ارزښت موضوع، ډېره مهمه او ارزښتناکه ده او د کتاب پېژندنې تیوري، د پرنسیپونو او اصولو د لاروچارو او پر کتابونو د سریزو او تبصرو لیکلو، ارزولو، کره کولو او بشپړولو په برخه کې، ښه وړ مرسته کولی شي.

پوهنوال پښتون آقا شېرزاد، په دې اړه

دوهم مخ

د خورا پېرزو کوونکي، لوروونکي الله په نامه

# سرلیکنه

## د پښتو منظوم ادب کې د پسرلي ښکلا او ځلا

د نوي کال په رابرېدو او د پسرلي په راتګ سره طبیعت خپله جامه بدلوي، ځمکه خپله واورینه لمن، شنه او زرغون فصل ته پرېږدي، چې دا په طبیعت کې د نوې سا د چلېدو او د یوه نوي ژوند د پیلامې او ادامې د زېري او د ځانګړې ښکلا او ځلا لامل ګرځي. هسې خو د کال ټول موسمونه د بېلابېلو ځانګړنو او ښېګنو له مخې پر طبیعت، انساني ژوند، نورو ساکښو او ونو بوټو خپل اغېز ښندي، خو په پسرلي کې طبیعت او د ژوند چاپېریال تر نورو فصلونو ډېر ښکلی برېښي، ښکلې هوا یې چې پر نباتاتو ولګېږي، ښېرازه او سمسورېږي، په انساني زړونو کې خوښي، خوځښت او له ژوند سره د مینې جذبه راولاړوي او په دماغونو کې د نویو فکرونو او اندونو د پیدا کېدو سبب ګرځي.

شاعر او ادیب چې تر نورو وګړو زیات حساس او ښکلا خوښوونکی دی، د دغه ښایسته موسم ښېګنې او ښکلاوې پرې اغېز پرېباسي او بیا خپل احساس، جذبه، بشري عاطفه، فکر او خیال د شعر او ادب په خوږه ژبه بیانوي او ستایي.

پښتو ژبه د نړۍ د نورو ژوندیو ژبو په څېر په خپل منظوم ادب کې دې برخې ته ځانګړې پاملرنه لري، د پسرلي په ستاینه په کې ارزښتناکې مرغلرې پېیل شوي، د پسرلي په موسم کې د طبیعي مناظرو او نورو کیفیتونو ښکلو او زړه راښکونکو انځورونو په کې انعکاس موندلی دی، چې څو بېلګو ته یې دلته نغوته کوو:

د پښتو په لرغوني ادبي دوره کې نومیالي شاعر ښکارندوی غوري، د هغه مهال د واکمن سلطان شهاب الدین غوري په ستاینه کې ویلې قصیده کې، د پسرلي د ښکلاوو او طبیعي مناظرو یادونه او ستاینه په دې ډول کړې ده:

د پسرلي ښکلونکي بیا کړه سینګارونه　　بیا یې ولونل په غرونو کې لالونه
مځکه شنه، لاښونه شنه، لمنې شنې شوې　　طیلسان زمردي واغوستل غرونه
د نیسان مشاطې لاس د مچېدو دي　　مرغلرو باندې وښکلل بڼونه
د غټولو جنډې خاندي ورېدي ته　　زرغونو بڼو کې ناڅي زلمي جونه

میرزاخان انصاري چې د روښاني ادبي -عرفاني مکتب پیاوړی شاعر

## سریزه (مقدمه) څه....

داسې لیکلي دي:

"سریزه کوم ادبي ژانر نه دی، چې د لیکوالو او ادیبانو دې ورته پام شوی وای او په اړوند یې معلومات خپاره کړي وای، خو سره له دې هم د ځینو لیکوالو ځینو آثارو کې لږ لږ معلومات تر ډېرو پلټنو وروسته لاس ته راتلای شي، دغه معلومات زیاتره د محتوا او معنا په اړه دي، د شکل او فورم په اړه یې چندان معلومات نشته."(۱)

سریزې، د اثر له بشپړېدو نه وروسته لیکل کېږي. سریزه لیکونکي او تقریظ لیکونکي، د اثر له لیکوال سره خپله اصلاحي نظریه طرح او شریکوي. په دې ډول، د اثر په بشپړتیا کې ورمرسته کولی شي. په اثر کې د دواړو خواوو په موافقې سره، لازم اصلاحات ترسره کېدی شي.

په هر اثر باندې د سریزې لیکل، ډېر اړین، ضروري او حتمي کار دی. سریزه اثر درنوي. سریزه، د اثر لوستلو ته، د لوستونکو تلوسه او دلچسپي زیاتوي. سریزه لوستونکو ته د کتاب محتویات لنډ ور پېژني. سریزه کتاب ته د ننوتلو له پاره، د معلوماتو لاره ده. که یو ادبي اثر یوه ودانۍ فرض کړو، سریزه یې دروازه ده. له دې امله، په اثر باندې د سریزې لیکل، ګڼې ښېګڼې او ګټې لري.

پوهاند دکتور سید بهاءالدین مجروح، د سریزې لیکلو د اړتیا په اړه داسې لیکلي دي:

"د لیکونکي په نظر، په دې اثر باندې اوږدو مقدماتي خبرو ته ضرورت نشته، ځکه لیکوال په سریزه کې د موضوع پس منظر ته ځغلنده کتنه کوي او لوستونکي ته تر لیکنې لاندې موضوع روښانوي.

په سریزه کې باید مطالب داسې ترتیب شي، چې د اصلي موضوع څېړنې ته لار پرانېزي او لیکوال باید د همدغه فکري انتقالي حرکت په نتیجه کې، بې له دې چې یو ناڅاپه د موضوع د معنا او محتوا فکري رابطه قطع شي، د اصلي موضوع لیکنې او څېړنې ته ورداخل شي."(۴)

په عمومي ډول، دوه ډوله سریزې لرو:

لومړی - هغه سریزې چې لیکوال یې په خپله، پر خپل اثر باندې لیکي او د هغه د لیکلو لارې چارې، سرچینې، هدفونه او مقاصد بیانوي:

"هغه سریزه چې په خپله، د اثر لیکونکي یا ژباړونکي له خوا لیکل کېږي. د یادونې وړ ده، چې سریزه د کتاب ډېره مهمه برخه تشکیلوي او زیاتره لوستونکي، د کتاب ارزښت په مقدمه کې لټوي. سریزه د لیکنې د عمومي روح او د هغې موضوع چې اثر پرې لیکل شوی، د محتوا او معنا د هنداري حیثیت لري، لوستونکی لوستنې ته هڅوي او د لارښوونې دنده ترسره کوي.

د کتاب په خپله سریزه کې لیکوال معمولاً د عمومي موضوع په اهمیت او ارزښت خبرې کوي، نو که ورته لازمه وبرېښي، د موضوع لنډه تاریخچه هم بیانوي. که یې له چا سره په دې برخه کې څه مشوره کړې وي او د هغې په نتیجه کې یې په لیکنه کې څه تغییرات راوستي وي او یا کړي."(۶)

په نړیواله کچه، پر آثارو د سریزو راوړلو په برخه کې ویلی شو چې:

د فرانسې د ولسي جرګې استازو، چې د ۱۸ زېږدیزې پېړۍ د سترو فیلسوفانو پیروان وو، په ۱۷۸۹ ز کال کې یې د بشر د حقوقو یوه اعلامیه تصویب کړه، چې یوه سریزه او ۱۷ مادې لري.

دغه سریزه، که څه هم، په یوه ادبي ژانر باندې نه وه راوړل شوې، مګر لږ تر لږه، موږ ته د لوېدیځوالو په لیکنو کې د سریزې لیکلو دود راښیي.

"د نړۍ زیاتره بنسټیز قوانین، د هغو له هر ډول روښانتیا پرته، بې سریزې، له اصل نه پیل شوي او له یوه وېش سره سم په مخ وړل شوي دي. د دغه ډول قوانینو لیکوال په دې عقیده دي، چې د هر قانون کلمې، بیا په ځانګړې توګه، د اساسي قانون کلمې ځانګړی ارزښت لري او په ډېر غور سره باید هره کلمه او عبارت، له هغې معنا سره سم چې ترې مقصد دی، وکارول شي. په دې ترتیب، د سریزې له پاره ځای نه پاتې کېږي. د اساسي قانون له پاره سریزه، د پېچلتیا او اختلاف سبب ګرځي. یو شمېر نور بیا په دې نظر دي، چې سریزه نه یواځې د اساسي قانون ارزښت نه کموي او پېچلتیا نه رامنځته کوي، بلکې د اساسي قانون د زیاتې ځلا سبب ګرځي او هر څوک کولی شي، چې د سریزې په لوستلو سره، د اساسي قانون ډول او د نظام ځانګړتیاوې وپېژني. په واقعیت کې، سریزه یوه داسې هنداره ده، چې د اساسي قانون د پېژندلو او ښه درک په برخه کې مرسته کوي."(۷)

دی، د شعر په خوږه ژبه د پسرلي ښکلی انځور داسې وړاندې کوي :

د لاله د زړګي داغ چې په زړه راوړم    زه وربېځ د نوبهار باندې اوربېږم

د تورې او قلم خاوند خوشحال خان خټک د پسرلي په اړه ډېر په زړه پورې انځورونه لري، چې یو یې تر بل غوره دی. لاندې بېلګه یې وګورئ :

په راتله در سره ډېرې خوښۍ راوړې    په خوشحال باندې دې قدر دی نوروزه

***

د نوروز منت په باغ او په صحرا هم    نوراني یې شه له فیضه هغه دا هم

د خوشحال خان زوی عبدالقادر خټک هم د پسرلي په ستاینه کې وایي :

نن سحر سبا نارې وکړې بلبلې    د بهار زېری کاوه یوې پر بلې

وې وې زېری مې دریاندې بهار تېر شو    بهار راغی پانې ونیولې ولې

د پښتو عارف او خوږ ژبي شاعر عبدالرحمن بابا د یوان په رنګینو پاڼو کې هم، د پسرلي ښکلي تصویرونه تر سترګو کېږي. هغه وایي :

بلبلان پسې ناري وهي رحمانه!    د بهار ګلونه شوي دي که نه دي

نازکخیال شاعر عبدالحمید مومند بیا وایي :

دا حمید د یار د خط له غمه ژاړي    که باران د پسرلي په در در راغی

نومیالي واکمن او شاعر لوی احمدشاه بابا د شعر په رنګینه ژبه د پسرلي د موسم او ګلونو په زړه پورې انځورونه وړاندې کړي دي. دی وایي :

پسرلی شو زېړ ګلونه    پرې بلبل کا چغارونه

محبوبا په سیل راغله    په خندا سپین سپین غاښونه

پیر محمد کاکړ د پسرلي موسم تعبیر د شعر په خوږه او رنګینه ژبه داسې کړی دی :

څېره د ګل شوه شمع افروزه بلبل چغار کا له دردو سوزه

چې په موسم دې خوبان هوس کا    تر هوا جار شم د تا نوروزه

کاظم خان شیدا هم د پسرلي په باب په زړه پورې شعرونه لري، چې یوه بېلګه یې داده :

طرفه صحرا ده ښه مرغزار دی    موسم د سیل دی هنګام د ښکار دی

له خوبه پاڅه عنوده یاره    زیبا ګلونه تازه بهار دی

معاصرو او اوسنیو شاعرانو هم د پسرلي په ستاینه کې خپلې مرغلرې پېیلي او په دغه موسم کې د طبیعي مناظرو او کیفیتونو ښکلي انځورونه یې وړاندې کړي، لکه پوهاند عبدالحی حبیبي، چې وایي :

د پسرلي نسیم رالوتی دی پر ګلو    که پاشلي په فضا کې دي عطرونه

د پسرلي شمال چې زېری پر ګل راوړ    چې سمسور شو له بېدیا وچ ډګرونه

استاد عبدالرووف بېنوا وایي :

د پسرلي ناوې ود پېږي ورا یې پنډه    مخ کا ته اخلي د غرو سورکي لالونه

د هغو به څه سپرلی وي چې ولاړ وي    په کړو غاړو د بل په درشلونه

استاد ګل پاچا الفت هم وایي :

پسرلیه بیا دې راوړه سره ګلونه    بیا به جګ کړې د بلبلو آوازونه

سرې لمبې دې ارغوان باندې کړې بلې    د ګل پاڼو کې دي نغښتي سره اورونه

چې د کتاب متن په خپله حال بیانوي، خو بیا هم د لوستونکو د څه اسانتیا له پاره د متن په اصلي مطالبو یو څو لنډې خبرې بدې نه دي."(۲) د استاد مجروح له خوا، دا څو ټکي، په ادبي اثر باندې، د سریزې لیکلو ته، یو جواز هم تعبیرېدلی شي.

په کتاب د سریزې د راوړلو په اړه د عبدالکریم په نامه یو لیکوال داسې لیکي:

"وچ په وچه دا داسې یوه لار غوندې جوړه شوې ده، چې هر کتاب له به، خامخا یوه پېژندګلو لیکلی شي."(۳)

لیکوال او څېړونکي سید محی الدین هاشمي، په دې اړه داسې لیکلي دي :

"سریزه (مقدمه) د لیکنې لومړۍ، خو اساسي برخه ده، لیکوال باید د مقدمې د لیکلو پر وخت ډېر محتاط وي. زیاتره لوستونکي د لیکنې ارزښت او اهمیت په مقدمه کې لټوي. په سریزه کې لیکوال معمولاً هغه کلیات او عام ټکي راوړي، چې وروسته وربانددې په اصلي برخه کې بحث او خبرې کېږي. سریزه د لیکنې د روح، محتوا او معنا د هنداري حیثیت لري. څومره چې لنډه، خو جامع، جذابه، خوندوره او منظمه وي، هغومره په کې د هڅونې قوت زیات وي او لوستونکی دې ته اړباسي، چې ټوله مقاله تر پایه په غور ولولي او که د لیکنې سریزه بې خونده او ګډه وډه وي، د لوستونکي په هماغه پیل کې له لوستنې څخه زړه مړېږي، ډېر امکان شته، چې هسې بې معنا خبرې ورته ښکاره شي او له لوستنې یې صرف نظر وکړي.

په مقدمه کې لیکوال په عمومي توګه دا بیا یادونه کوي، چې ولې یې دا موضوع انتخاب کړه، څه دلچسپي یې ور سره لرله، د لیکنې هدف او اهمیت یې څه دی؟ ځینې یې کومې نیمګړتیاوې او کمزورتیاوې پوره او کره کړې وي، د هغو یادونه کوي او دا هم په ګوته کوي، چې معلومات یې څنګه او له کومو منابعو څخه تر لاسه کړي دي. لیکوال معمولاً د خپلې سریزې په پای کې له هغو کسانو څخه د زړه له کومې مننه کوي او کورودانی ورته وایي، چې دی یې دې لیکنې ته هڅولی، مشورې یې ور سره کړې، د معلوماتو له پاره یې منابع او مأخذونه ور ښودلي، د خپل کتابتون کتابونه یې د استفادې له پاره ورکړي، د ده پر کتاب یې سریزه او تقریظ لیکلی او یا یې نورې معنوي او مادي مرستې ور سره کړې دي. ځینې لیکوال، دا کار د کتاب په یو ځانګړي مخ کې د اثر په لومړنیو او یا وروستنیو مخونو کې، د «مننې او کورودانې» تر سرلیک لاندې کوي."(۵)

۲ - هغه سریزې، چې د اثر لیکوال یې، د سریزې لیکلو له پاره، بل ته ورکوي :

"په هغو لیکنو کې، د سریزې لیکوال د خپلې پوهې او استعداد په اندازه هڅه کوي، چې د کتاب محتوا علمي او فني اړخونه په پوره غور او دقت ارزیابي او نورو ته په ګوته کړي. د اثر د مؤلف یا ژباړن د علمي استعداد، زیار او زحمت مناسبه ستاینه وکړي او د خپلې پوهې او بصیرت په رڼا کې، په کتاب کې د څېړل شوې موضوع یا راغلیو مطالبو علمي، هنري او ادبي ښېګڼې، ارزښت او اهمیت لوستونکو ته وښیي او د دې تر څنګ هڅه کوي، چې د کتاب له لیکوال او لوستونکو سره د همدردۍ له مخې د ځینو ضروري ټکو، مفاهیمو، توضیحاتو او څرګندولو په یادولو او ور زیاتولو سره د اثر د معنوي اړخ په بشپړتیا، کره کولو او پوره کولو کې ارزښتناک رول تر سره پورتنۍ څرګندونې دا ښیي، چې په هر ډول آثارو باندې، د سریزو راوړلو په برخه کې، د نړۍ د پوهانو ترمنځ، ژور اختلاف لیدل کېږي.

استاد هاشمي، په نړیواله کچه د سریزې لیکلو د عنعنې په اړه داسې لیکي : "تر کومه ځایه پورې چې موږ ته ښکاره ده، په غربي نړۍ کې زیاترو لیکوالو په خپلو لیکنو کې د سریزې لیکنه پرېښې او له پامه یې غورځولې ده، هغوی سریزه لیکنه د ځان او لوستونکي د وخت ضیاع ګڼي او پرته له سریزې په اصلي موضوع پیل کوي، خو په شرقي لیکنو کې بشپړ دود دی او تقریباً هېڅ لیکنه بې له سریزې نه پیل کېږي."(۸)

سرچینې :

(۱) پوهنوال پښتون آقا شېرزاد، پښتو کې د سریزې لیکنې پیلامه، کابل، د علومو اکاډمي، کابل (مجله)، ۱۳۹۱لمریز کال، نهمه ـ لسمه ګڼه، ۱۴۶مخ.

(۲) پوهاند دکتور سید بهاوالدین مجروح، ځانځاني ښامار، کابل پوهنتون، د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، ۱۳۵۶ل کال، لومړی چاپ، ۳ مخ.

(۳) غني خان، لټون، پېښور، یونیورسټي بُک ایجنسي، ثاني پرنټرز څلورم چاپ، ۲۰۰۵ز کال، زمخ.

(۴) سید محی الدین هاشمي، د لیکوالۍ فن، پېښور، میرویس کتاب پلورنځی، دویم چاپ، پښتونخوا، د دعوت او جهاد پوهنتون، د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، ۱۳۸۳لمریز کال، ۵۸ مخ.

(۵) پورتنی مأخذ، ۵۹ مخ.

(۶)پورتنی مأخذ، ۶۰ مخ.

(۷) مدني، سید جلال الدین، کلیات حقوق اساسی، ایران تهران، انتشارات پایدار، چاپ دوم، سال ۱۳۸۰ خورشیدی، ص ۲۸.

(۸) د لیکوالۍ فن، ۵۳ مخ.

## دژبې د نګه توب....

بومي (اصلي) لغتونو د کارونې ساحه تنګوي او یا دا چې د هغې ژبې د خپلو لغتونو د لغوي پانګې د کمزورۍ لامل ګرځي. همدا لامل دی، چې یو شمېر ژبپوهان د خپلو ژبو د نګه کولو او ساتلو لړۍ پیلوي او هڅې کوي، چې دا تشه ډکه کړي او د پردیو لغتونو پرځای د خپلې ژبې لغتونه وکاروي. دوی دې موخې ته د رسېدو په هیله د نویو لغتونو په جوړولو هم لاس پورې کوي.

ځینې پوهان بیا د نویو لغتونو د جوړولو او له ژبې څخه د پردیو لغتونو له ایستلو سره مخالفت کوي او وایي، چې هغه د هماغې ژبې مال دی، ولس یې کاروي او باید چې په خپل ځای پرېښودل شي.

دا یوه جوته خبره ده، چې په نړۍ کې داسې یوه ژبه نشته، چې هغه دې د نورو ژبو له لغتونو څخه په ډاډه او یوه نګه یا خالصه ژبه دې وي، خو که په نورو ژبو باندې د یو شمېر ژبو اغېزې ته لاس تر زنې کېنو، نو که نور هېڅ هم له لاسه ورنه کړو، د خپلې ژبې ډېر داسې لغتونه به مو له لاسه ووځي، چې په پېړیو پېړیو مو کارولي دي او نن هم زموږ غوښتنې په مناسبه بڼه سرته رسولای شي.

ډېره اړینه او مهمه خبره داده، چې د پردیو لغتونو پرځای د خپلې ژبې لغتونه (په تېره بیا نوي جوړ کړي لغتونه) د ژبې د متخصصو پوهانو له توافق څخه وروسته د کارونې ډګر ته راووځي، چې د خپلسرۍ مخه ونیول شي، ځکه په خپلسر کړنې ګډوډۍ رامنځ ته کوي، ژبه د معیار له کرښې څخه لرې کوي او دا هم ګرانه ده، چې د هر پردي لغت په مقابل کې دې داسې لغت وټاکل شي، چې په سمه توګه د یوه پردي لغت ځای ډک کړای شي.

شاته به نه ځو، دې وخت ته به وګورو، چې موږ ژوند په کې کوو. زموږ عصر او وخت، د زمانې هغه برخه جوړوي چې له شخړو او جګړو سره سره، نړۍ ډېره په تېزۍ سره مخ پر وړاندې روانه ده، د هرې ورځې په تېرېدو سره نوي شیان او نوي اکتشافات رامنځ ته کېږي او نوي لغتونه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې یوې او بلې خوا ته خپرېږي او نورو ژبو ته لاره پیدا کوي. زه له نورو یادونو څخه تېرېږم، یوازې ګرځنده ټېلفون د مثال په ډول یادوم:

موږ د دې شاهدان یو او خپله هم د ګرځنده ټېلفون ژبه کاروو. ایا د همدې کارونې په واسطه د دې امکان نشته، چې د وخت په تېرېدو خپل اصلي لغتونه له لاسه ورکړو؟ طبیعي خبره ده، چې له دې ناورین سره به مخامخ کېږو.

تر کومه چې زما نیمګړې نظریګۍ ده، زموږ ژبه د دې توان لري، چې د ګرځنده ټېلفون د لغتونو تشه ډکه کړي، نو که د داسې پردیو لغتونو پرځای د خپلې ژبې یا د خپلې ژبې د لغتونو پربنسټ نوي جوړ کړي یا جوړېدونکي لغتونه وکاروو، زیان یې څه دی؟

## په ادبي اثر کې...

دوی د ټولنې سترګې بولي، له همدې ځایه پیلېږي، چې لیکوال باید د یوه طبیب په څېر د خپلې ټولنې په ناروغیو پوه وي، درک یې کړي او بیا ورته مناسبه نسخه ولیکي، له شک پرته چې استاد الفت همدا مسوولیت د یوه ماهر طبیب غوندې تر سره کړی، د ده همدې فکر او د لیکوالۍ ټولنیز حیثیت ته درناوی او د خپلې ټولنې د خامیو په اړه لوړ خیال او ژور فکر، دی د هېواد له دایرې وېستی، د نړۍ له سترو لیکوالانو، لکه رابندرناتهـ ټاګور، جبران خلیل جبران او نورو سره یې په یوه کرښه درولی دی، د هغه غوره نثرونه، لوړ خیالونه ژور فکرونه او همدارنګه شعرونه یې د دې موضوع ښې بېلګې دي. تقلیدي فکر او په زړو مفکورو شخوند وهل، نه یوازې چې لیکوال ته د لیکوالۍ یا ادب په نړۍ کې کوم ځانګړی او تلپاتې نوم نه شي ورکولی، بلکې اثر یې د ژبې په پرمختګ کې هم کومه د پام وړ زیاتونه او ګټوره هڅه نه ده. فکري تولید او په نوو موضوعاتو سوچ کول، که په یوه ادبي اثر کې دوه سلنه هم درک شي، نو ډېره غوره بریا او بیا هم یو پرځای کار په دې دی، چې لږ تر لږه خو به مخاطب ته یو څه ورسوي او د وخت د ضایع کېدو سبب خو به یې نه شي. د نړۍ د تلپاتو آثارو یوه مهمه ځانګړتیا هم داده، چې لیکوال یې د خپلو مخاطبینو په نظر کې نیولو سره مستقیماً خپلې موخې ته ځي او خپل پیغام رسوي، په لیکنه کې د فکر د نه رسولو او تت پیغام موضوع ډېر ځله د هغو لیکوالو له خوا رامنځ ته کېږي، چې له ځان سره هېڅ ډول تولیدي فکر او نوښت ونه لري، نه په موضوع حاکمیت ولري او نه د خپل اثر په ټولنیز پیغام خبر وي.

## ادبي او فرهنګي خبرونه....

منلي، ډاکتر سید عبدالقیوم سجادي، رهنورد زریاب، سید حسین فخري، ډاکتر محمد اکرم عثمان، صالح راسخ یلدرم، سرور مولایي، محمد معصوم هوتک، پوهاند عبدالواسع لطیفي، واصف باختري، عبدالباري جهاني، اسدالله غضنفر، هدایت الله حافظ، رضا محمدي، عبدالاحد مومند، لطیف بهاند او نجم الرحمن مواج ته د غازي میرمسجدي خان عالي دولتي مډالونه ورکړل شول.

سرچینه زیاتوي، دغه راز عبدالاحد عشرتي، راشد سلجوقي، عبدالغفور ارزو، پوهاند میر حسین شاه، پوهاند عالي محمد او استاد عبدالله بختاني خدمتګار ته د غازي میربچه خان عالي دولتي مډالونه او ښېرندوی حبیب الله رفیع ته د غازي ملا مشک عالم خان عالي دولتي مډال؛ صفیې صدیقي، ګلالۍ حبیب، سپوږمۍ زریاب او شفیقې یارقین ته د میوند د معرکې اتلې ملالۍ عالي دولتي مډالونه، منظور او ورکړل شول.

### خوست کې د چنار دودیزه کلنۍ مشاعره جوړه شوه

په خوست ولایت کې د ۱۳۹۳لمریز کال د وري په ۲۱مه، د دولتي چارواکو او عامو خلکو په ګډون د چنار دودیزه کلنۍ مشاعره جوړه شوه. د چنار دغه کلنۍ دودیزه مشاعره د خوست په ملي لوبغالي کې ترسره شوه، چې پر ځایي چارواکو سربېره په کې ګڼ شمېر شاعرانو، لیکوالانو او د فرهنګ او ادب سلګونو مینه والو ګډون کړی وو.

په دې مشاعره کې د شاعرانو زیاتره شعرونو اصلاح کوونکې بڼه درلوده او خلکو ته یې په هېواد کې د سولې د تامین پیغامونه ورکول، دغه راز هغوی ځوانان خپلو مسوولیتونو ته متوجه کړل.

### په اروزګان او زابل کې مشاعرې وشوې

په اروزګان ولایت کې د "سلیمان تخت" او په زابل ولایت د "بادام ګل" پسرلنۍ مشاعرې ترسره شوې.

دوري په ۲۹مه د سلیمان تخت په مشاعره کې د اروزګان او شاوخوا ولایتونو سلګونو شاعرانو او لیکوالانو ګډون کړی وو. په دې مشاعره کې د شاعرانو لیکل شویو شعرونو، غزلونو، نظمونو او نورو لیکنو تر ډېره د افغانستان د روښانه راتلونکي هیلې راژوندۍ کولې.

د "سلیمان تخت" په نوم مشاعره د لومړي ځل له پاره په ۱۳۹۱ لمریز کال کې ترسره شوه.

په زابل کې هم د وري په ۲۹مه دودیزه د "بادام ګل" مشاعره د سلګونو کسانو په ګډون د دې ولایت په مرکز کلات کې ترسره شوه، چې په کې شاعرانو د روانو جنګونو، ناخوالو او نشه یي توکو پر وړاندې شعرونه ولوستل.

## لنډۍ د پوهانو...

**هجوه:**

ګل خو د ګل سره جوړېږي
چېرې ازغي چېرې د ګلو صورتونه

***

ګل مې د يار سره جوړېږي
مناسب نه دی چې موزيان يې بويوينه

***

وروځې هلال مخ دې آسمان دی
دا شنه خالونه په کې ستوري خوند کوينه

**مکابره:**

دوه يم يوسف راته ښکارېږي
د زليخې په شانې لار درته ساتمه

***

ودان مکان د کسرا وران شو
چې پاک رسول مقبول پيدا په جهان شنه

***

آس خويې زين دی روانېږي
خان مومن خان د هندوستان په لوري ځينه

***

بخت به زما سره مل نه شي
که زه غمی د سليمان د ګوتې شمه

***

غرونه به ولې نه غتېږي
چې لوی بادشاه مو احمدشاه په مخکې ځينه

***

په ښار د مصر کې به غورېږوي
ښکلی يوسف د زليخې ورسېدنه

***

آدمه راشه ما خو بيايه
دا تور پلکی مې پياوي ته جوړوينه

***

آدم له ماځنې جدا شو
زه درخانۍ ورته په لار کې ناسته يمه

**لُغز:**

دوه په کې ږدم اته بهر دي
چې يې کومه رحمت مې په برخه شينه

***

لس واړه دوو ته پورته کېږي
پاس دوه له کبره ښکته نه ورته راځينه

(نيت تړل)

***

په دې به يې لمن راګل او سپرغې کړو:

اَ مخکينۍ مينه دې نشته
لکه چرچر به چرېدې په دېوالونه

***

اخر به وژاړې جانانه
تل خو به نه وي ستا خولګۍ زما خواستونه

## ادبيات او ادبي...

راجلا کولو له پاره له ادب سره د تخليقي کلمه ورزياته کړې ده. (۳)

نو ويلای شو، چې ادبيات او د ادبياتو په اړه پوهه او معلومات سره بېل دي. اديب په نوښت او ابتکار سره نوی فکر او مضمون راپيدا کوي. که موضوع زړه هم وي، نو د ادا بيان او افادې طرز يې نوی وي.

اديب د تخليق په دغه عمليه کې له خپلو کتنو او اورېدنو څخه نوی فکر او معنا راباسي، د خپل فطري استعداد او تخيلي ځواک په وسيله له عادي پېښو څخه نوې پايلې اخلي او هغه نورو ته وړاندې کوي، خو "ادبي مطالعه" او څېړنه د تخليق شويو ادبي آثارو لوستنه او پر هغو تحليل او شننه ده.

"څېړونکی" هغه څوک دی، چې د نورو له خوا تخليق شوي آثار د خپلې پوهې او بصيرت په رڼا کې تحليل، تشريح او ارزيابي کوي، ارزښت، اهميت او ادبي مقام يې ټاکي، نورو ته يې ښېګڼې او بدګڼې بيانوي.

سره له دې چې اوس ځينې ادبپوهان د ادبياتو په اړه څېړنې او سپړنې په ادبياتو کې نه شمېري، خو دا چې دغه څېړنې عموماً د ادب د ماهيت او منځپانګې (محتوا) د تشريح، توضيح او پېژندنې له پاره کېږي، نو د ادب له چوکاټ څخه يې رابېلونه هم ستونزمن کار دی.

د يادونې وړ ده، چې د اديب له پاره په عامه توګه د امکان تر بريده د ادب په اړه او په ځانګړې توګه د خپل فن او ادبي -هنري څانګې پورې اړونده ادبي پوهه او مطالعه لازمي او ضروري ده، ځکه چې پرته له ادبي مطالعې يې فن سمه او مناسبه وده نه شي کولای.

اخځليکونه:

(۱) هاشمي، سيد محی الدين، ادبپوهنه، د اريک د ګرځنده کتابتونو اداره، پېښور، ۱۳۸۱ لمريز کال، ۱۴مخ.
(۲) تړی، حبيب الله (پوهاند، ډاکټر)، د ادب تيورۍ اساسونه، د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي د پښتو څانګې درسي نوټونه.
(۳) صديقي ابوالاعجاز، کشاف تنقيدي اصطلاحات، مقتدره قومي زبان اسلام آباد، ۱۹۸۵ زېږديز کال، ۳۲مخ.

څېړندوی عبدالغفور لېوال

## نوروز ته سرود

له بامي بلخه راپاڅه، د نوروز د سهار باده
پسرلی د عشق راخور کړه له زاړه ام البلاده
د هلمند مسته څپه شه په لرغوني سيستان واوړه
د کابل ارغوان ښکل کړه، د باګرام هوا کړه ښاده

پر سرلوړي هري واوړه، چې ګذر په اصفهان کړې
بخارا ته ورېمه يوسه، چې پرواز په بدخشان کړې
د سوما په باده مسته! د (سدې) د جشن ياده
له بامي بلخه راپاڅه، د نوروز د سهار باده

له (ګنجه) تر اباسينه، له ګنګا تر سمرقنده
له قونيې تر فراه روده، له لاهوره تر خجنده
د زلمو دي اتڼونه، د ښايسته پېغلو نڅا ده
له بامي بلخه راپاڅه، د نوروز د سهار باده

نوی کال دی، نوی ژوند دی د اقبال ستوری بلند دی
د دانې نوی پيوند دی، د دهقان خاطر خرسند دی
تر پښو لاندې سبزه ده، پاس د عشق نوې هوا ده
له بامي بلخه راپاڅه، د نوروز د سهار باده

سمنک دې شنه قدم ته، هفت مېوه د سپرلي دم ته
قزاقي سمند دې زين کړه، راشه بيا قرغزي چم ته
چې بيا يو کړو سره زړونه، لويه سوله کړه بنياده
له بامي بلخه راپاڅه، د نوروز د سهار باده!

# زېړی

پنځلس ورځنۍ جریده

د تاسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د کتونکې ډلې تر څارنې لاندې

مسوول مدیر: څېړندوی محمداصف احمدزی

مرستیاله: څېړندویه ملکه مشتري

zerai1316@gmail.com

https://www.facebook.com/Zeerai1316

۰۷۷۷۳۰۰۴۷۱

د افغانستان د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبیاتو د علمي مرکز

خپرنیز ارګان

پته: د افغانستان د علومو اکاډمۍ ودانۍ،

نوی ښار، کابل - افغانستان

طرح او ډیزاین: م. ا. احمدزی


# لنډۍ د پوهانو له نظره

دوهمه برخه

سکندر زړه چې ځنې خوړین و
په دغو غرو کې اوس روسان په ګونډو دینه

⬟ څېړنپوه علي محمد منګل

د لنډیو په برخه کې چې څوک تحقیق کوي، دا ورڅرګندېږي چې د شیرینې پښتو ژبې دا عالي او ارزښتمنې بې سارې ادبي مرغلرې، د ولس د فولکلوري او شفاهي تخلیق له سرچینې څخه د روانو اوبو په شان ډېرې پاکې د رڼو او روښانه څاڅکو په شان د پښتون ولس له سینو او فکر څخه راوځي او خپل پرمختیایي یون او بهیر د پښتني او انساني ژوند په لمن کې په ډېر خواږه زړه، راپاروونکي احساس، د ژوندانه د ټولو ډډو، د ولس د عمل او کړو وړو، راویښولو او د سیمو د یادولو او پېژندلو په برخه کې په ټولې ژورې ادبي رنګینۍ او ښکلا سره د ښایسته ګلانو په څېر راغوړېږي، چې ټوله پښتونخوا او ادبي دنیا یې په ادبي ادا خوشبویه او عطراګینه ده، د ختن د مشکو په شان خپله هنري او ادبي خوشبویي د جوړې شوې وي.

له دې کبله په دې ستر ولسي یو بیتیز شعر کې حمد شریف، نعت شریف او منقب هم ډېر تر سترګو کېږي، چې پښتون ولس یې وایي. مور. تراوسه پورې اې منګله! په معنوي او شکلي لحاظ ورته د نظم په وېش کې څه کتنه نه ده کړې. همدا شان غندنې هم په کې په ټولې معنا سره راڅای شوې دي.

په یاد لره، چې په لنډیو کې د غیرت، ننګ او جنګونو او د پهلوانانو یاد په لویه پیمانه وجود لري، چې دا یې حماسي خوا ده، چې رزمیه لنډۍ او شعر ورته ویلی شو.

اې منګله! دا شان په لنډیو کې د معنا له مخې رثایه، رثیات او مرثیات په ډېر بارز ډول وجود لري. دا هغه لنډۍ دي، چې ښځې او خپلوان یې په مړو باندې د خپل غم او تأثر د اظهار او جوتولو له پاره په

پیره بابا راورسېږه
تر تا تېرېږم د یوانه بابا ته ځمه

***

پیره کامله رارسېږه
بېړۍ شوه غرقه په تخته ولاړه یمه

**حماسه (ویاړنه - فخریه):**

یار مې په جنګ کې توره وکړه
ځکه همځولیو کې سر پورته ګرځومه

***

ځان به سل ځای ټوټې ټوټې کړم
وطنه تا به له دښمن نه وساتمه

***

تن مې وطن مخ مې غیرت دی
سترګې مې تورې د دښمن سینه وهینه

**رثایه:**

پلار ولاړ مور ورته ژاړي
ورور په اخته دی سپین کفن په غوړوینه

***

✸ م. ا. احمدزی

# ادبي او فرهنګي خبرونه

## کابل کې د نوروز نړیوال جشن ونمانځل شو

د نوروز نړیوال جشن مراسم د ۱۳۹۳ لمریز کال د وري په اوومه د پلازمېنې کابل په ارګ کې ترسره شول. دغه جشن د نوروز حوزې د غړو هېوادونو له خوا هر کال په یوه غړي هېواد کې نمانځل کېږي، چې سږ کال د دغه جشن له پاره افغانستان ټاکل شوی و.

په دغو مراسمو کې د افغان چارواکو تر څنګ، د نوروز حوزې د غړو هېوادونو لوړپوړو چارواکو او استازو او د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال ګډون درلود. موسیقۍ، اتڼ، چوب بازي او ځیني نور تفریحي پروګرامونه هم د جشن د دغو مراسمو برخه وو.

*****

## پکتیا کې نوی فلم ننداري ته وړاندې شو

په پکتیا ولایت کې د (تقدیر) په نوم هنري فلم جوړ او د وري په ۷مه ننداري ته وړاندې شو. د یاد فلم د ننداري غونډه، چې د پکتیا د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په تالار کې جوړه شوې وه، د دغه ولایت ځینو فرهنګیانو په کې برخه اخیستې وه.

دغه فلم په پکتیا کې د یو شمېر ځوانانو له خوا د شاوخوا یو کال په موده کې بشپړ شوی، چې د جنایتونو د مخنیوي، سولې ته کار او یو شمېر نورې موضوع ګانې په کې رانغاړل شوې دي. د یاد فلم د مرکزي رول لوبوونکی او جوړوونکی محمد امین حیران وایي، چې پر دغه فلم شاوخوا ۴ سوه زره افغانۍ لګښت راغلی، چې ټولې یې د فلم د کارکوونکو له خوا ورکړل شوې دي. د فلم صحنې پر پکتیا سربېره په یو شمېر نورو ولایتونو او په ځانګړې توګه د کوزې پښتونخوا په ځینو سیمو کې ډکې شوې او د دغو

ولسي ادبياتو په نړۍ کې په هسکې شملې سره راځلوي.

زه په دغه اړه نوره يادونه، نه کوم؛ دا ځل مې لنډۍ د علامه او اکاډميسين فاضل استاد پوهاند عبدالشکور رشاد، له ډېر درانه ادبي يادښت څخه، چې زما د غوښتنې له مخې يې ځان په تکليف کړی و، په ډېره علمي مينه، د ده د لوړ نظر له مخې درته وړاندې کوم:

د فاضل استاد رشاد صاحب له قلمي يادښت څخه:

اې منګله! نظم او شعر په دوه لحاظه تقسيمېږي: يو د شکل او بل د معنا له مخې...لنډۍ د شکل له مخې، هغه مثنوي ولسي نظم او شعر دی، چې لومړی نيم بيتی يې کمکی (لنډ) او دوهم يې لوی (اوږد) وي، د قافيې له قيده خلاص دي او د معنا له مخې، هغه عالي او بې سارى مثنوي شعر دی، چې په دې ولسي يو بيت او نظم کې پوره مضمون، د بشپړ مطلب او پيغام له پاره په کې ځای شوی وي، چې په کې عشقيات او غنايي رنګينۍ (خط او خال، د معشوقې صفتونه، شوخۍ، خرام، نزاکتونه، ادا) راغونډې وي. مکابره او تلميح په ښه شان سره په کې راغونډ وي، د بګتۍ رنګ هم په لوړ شان سره په کې تر سترګو کېږي، چې په دې برخه کې د پښتون د قوم او ځان صفت ځلېږي به، لُغز، کيسۍ او چستان هم سر او څرک په کې وهلی دی، د مدحياتو برخه يې لکه چې وويل شول، ډېره درنده ده. خو چې د الله تعالی په ستاينه کې وي، د حمد رنګ، که د پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) په ياد کې وي، د نعت ښه، که د اولياوو صفت او مدحه په کې راغلې وي، نو د منقب په شکل کې موزون ډول او غږوايي، چې مرثيه ورته وايه شي.

منګله! دا هم واوره، لکه چې ليدل کېږي، د لنډيو دا خوا پوره د پښتنو له هرې سيمې څخه نه ده راغونډه شوې؛ بايده ده چې لازمه پاملرنه ورته وسي.

دا وستا د زياتې غوښتنې په اړه، د لنډيو په باب زما لنډ قلمي يادښت، چې له خپلو قلمي پاڼو څخه مې درته لنډ لنډ په څو ټکو کې راوکېښ، تاسو ښه ورته ځير شئ او دا درڅخه غواړم، چې ټولو يادو موضوعاتو ته، په دغه اړه لنډۍ په يوه يا دوو بېلګو کې وړاندې کړې، دا کار به نو ته ترسره رسوې...

**حمد**:

الله تعالی رحمن رحيم دی
موږ په قيامت د مغفرت طمعه لرونه

***

الله تعالی ته مهربان يې
زه بې له تا نه اسره چا وته کومه

**نعت**:

رسول مې بوټی د لونګ دی
څلور ياران پرې بوراګان وبوېدنه

***

تخت د رسول په هوا راغلو
تر عرشه پورې مرحبا اواز راځينه

***

تخت د رسول په هوا راغی
الله تعالی غوښتی تر لا مکانه ځينه

**منقب**:

راورسېږې خپله پيره
د شا له تيره خو شپتۍ ختلې دينه

***

ولې به نه ژاړم عالمه
چارۍ په لاس په يار مې خاورې اړومه

**هزل (ټوکې- جديات)**:

د موزيکې مېړانه ګوره
نن يې چرګوړی تر لکۍ نيولی ونه

***

د اوښ پړتوږ چرګوړي يووړ
ګونګټ په برېتو لاس وهي چې رابې وړمه

***

د پوتينګړ غوندې دې ونه
د سپينې خولې مچو ته مه وهه ټوپونه

***

**مضحکې او خنډووڼکې ټوکې ټکالې**:

د پلار زانګو مې زنګوله
ناڅاپه غږ شو چې نيکه دې پيدا شونه

***

د غره د سرنه مې راټوپ کړ
بوډۍ اخته ده ستر غوڅکي خصيان کوينه

**عشقيات**:

جانانه راشه ګل او به کړه
په سپينه خوله مې خولې ډنډ ولاړې دينه

***

مينه له مينې پيدا کېږي
په مينه مينه دې کتم مين دې کړمه

**صفت، ستاينه**:

زما اشنا ګل د عنبر دی
مدام يې غم د وچېدو راسره وينه

***

که جهان مري جانان دې نه مري
يو خو ښه ځوان دی بل يې کړي جهادونه

***

مخ ته دې ځير کتلی نه شم
دا ستا د مخ شغلې مې سترګې برېښوينه

درېيم مخ

سيمو لوبغاړو په کې برخه اخيستې ده. د يادونې ده، د ياد فلم جوړوونکو له خوا د وطن زلمي، بازار، دلستوڼي مار په نومونو نور فلمونه هم جوړ شوي دي.

*****

## په ننګرهار کې د نارنج ګل دوديزه مشاعره ترسره شوه

د ننګرهار په شاهي ماڼۍ کې د روان کال دوري په ۱۳مه، د دغه ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ رياست له لوري د نارنج ګل دوديزه مشاعره ترسره شوه، چې لسګونو شاعرانو او ليکوالانو په کې برخه اخيستې وه. د نارنج ګل دوديزه مشاعره، چې ۴۹ کلنه مخينه لري او هر کال د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې په جلال اباد کې نمانځل کېږي، د لومړي ځل لپاره د ۱۳۴۴ لمريز کال دوري په ۱۹مه د ننګرهار په سپين غر هوټل کې وشوه.

*****

## د افغانستان قلم ټولنه کې پسرلنۍ مشاعره وشوه

د افغانستان قلم ټولنې له لوري د روان ۱۳۹۳لمريز کال دوري مياشتې په لسمه نېټه، د دغې ادبي ټولنې په ودانۍ کې پرتمينه پسرلنۍ مشاعره ترسره شوه. په دې مشاعره کې چې لسګونو شاعرانو او اديبانو په کې ګډون کړی وو، د ځينو شاعرانو له لوري پسرلني شعرونه ولوستل شول.

*****

## ولسمشر کرزي ځينې علمي شخصيتونه په عالي دولتي مډالونو ونازول

ولسمشر حامد کرزي د افغانستان د علومو اکاډمۍ د غړو په ګډون يو شمېر نومياليو ليکوالو، شاعرانو، اديبانو او کارپوهانو ته د ۱۳۹۳لمريز کال دوري په شلمه، عالي دولتي مډالونه ورکړل.

له ارګ څخه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې د ولسمشر کرزي له خوا دغه عالي دولتي مډالونه په ارګ کې د هېواد په کچه لومړني افغان ستورمزلي او ځينو ليکوالو، شاعرانو، اديبانو او کارپوهانو ته په هېواد کې د عامه اذهانو د روښانه کولو په لاره کې د هغوی د هر اړخيزو او زړه سواندو هڅو، علمي او څېړنيزو تأليفاتو د رامنځته کولو او په اخلاص، رښتينولۍ او برياليتوب د دندو د ترسره کولو له امله ورکړل شول.

سرچينه کاږي، حامد کرزي د مډالونو له ورکولو وروسته، د غونډې برخه والو ته په خبرو کې وويل: "علم، ادبيات، دين، شعر او وينا په افغانستان کې د ژوند مهمې ملي برخې دي. وياړم، په دې و توانېدم چې له تاسو ګرانو د هېواد د علم، شعر او ادب پالونکو او څېړونکو سره ووينم."

د خبرپاڼې په حواله، په دې غونډه کې پوهاند استاد نعمت الله شهراني، جلال نوراني، سميع الله تازه، عبدالستار پردلي، حيدري وجودي، ډاکتر محمد يعقوب واحدي، پوهاند محمد صديق رازقي نړيوال، محقق عبدالمالک لاموال، مولوي زين الله

درېيم مخ

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.